
سیدعبدالله ولي زی

۲۰۱۱/۰۸/۱۴

# د یو ویشتمې پېړۍ غوره مفکر شخصیت

د امریکا د بیوګرافیو څېړنیز انستیتوت (ABI - American Biographical Institute)، چې د امریکا په (North Caroline) ایالت کې موقعیت لري، د څېړنو پر بنسټ یې یو افغان ډاکټر د یوویشتمې پېړۍ غوره مفکر شخصیت ټاکلی دی او د نړیوال سفیر لقب یې ور کړی. دغه افغان ډاکټر چې سیدنصیراحمد نومېږي؛ پروسږ کال یې د انګلستان د کمبرېج د بیوګرافیو د څېړنیز مرکز لخوا د نړۍ د غوره ځانګړیوه ډاکټر لقب تر لاسه کړی ؤ، چې یو د سپینو زرو مډال یې هم ورته ورکړی دی. دا دی سږ کال د امریکا د بیوګرافیو د انستیتوت لخوا د یوویشتمې پېړۍ د غوره مفکر شخصیت په نامه ونومول شو. د یادولو ده چې د ګامبیا جمهور رئیس یحیی جامع، د پاکستان فقیدې صدراعظمې بې نظیر بوټو او کنشمېر نورو سیاسي لیډرانو هم د امریکا د بیوګرافیو د څېړنیز انستیتوت ( ABI American Biographical Institute) لخوا د (ABI awards) لقبونه تر لاسه کړي دي.


**ABI** *American Biographical Institute, Inc.*

*Publisher of Biographical Reference Works since 1967*
***Host of The World Forum, San Francisco, California 2011***

Main Office: 5126 Bur Oak Circle, PO Box 31226, Raleigh, North Carolina 27622 USA * Established 1967 *Fax: 919-781-8712 * Email: abiinfo@abiworldwide.com

April 15, 2011

Dr. Nasir Ahmad Sayed
Bosuil 17
3435 MD Nieuwegein THE NETHERLANDS

Dear Dr. Sayed:

You have been chosen for a distinct honor that is unparalleled in regard to this Century's historical records. The reference world has, for some time, been blessed with countless directories containing pertinent information on important men and women throughout the world. Needless to say, every conceivable category of biographical intrigue has been presented. Biographical reference works have dedicated their purpose to the actions, deeds, career attainments, and dedication of important individuals. Although important, and indeed necessary, the work for which you have been nominated is dedicated to the core of these remarkable feats and achievements, to the wonderful minds that forge them.

***Great Minds of the 21st Century,*** a publication for which you have been nominated is one of the most popular and sought-after books among the world's greatest library collections of influential and creative minds - libraries that house collections of notable writers, scientists, philosophers, artists, entrepreneurs, and corporate, government and organizational leaders. The scope of this book will place its focus on less than 1000 individuals living in the world today who, like yourself, have demonstrated the ability to be great leaders, thinkers, intellectuals, inventors, and the like. ***Great Minds of the 21st Century*** will be dedicated to highlighting your accomplishments and ideas, as well as your proficiency to achieve distinction in your particular area of authority through your unmatched intellect. Academies of higher learning will be able to use this book to recognize the prevalence of your contributions and devotion to the advancement of society, on a global scale, and how your great mind has worked to help influence and pave the way for many individuals. Individualism is Specialized, Greatness is Universal.

***Great Minds of the 21st Century*** will complement over 200 titles the Institute has published to date. Our reference materials have and will continue to strive as important sources of information for others like yourself as well as for libraries, schools, researchers, and the home. To honor this genuine achievement we have selected various keepsakes for you to choose from to emphasize the honor for which you have been nominated. A Medal of unequaled quality and molded only for Great Minds of the 21st Century is of special significance as is the Proclamation Plaque designed to indicate your unique selection for this volume. Keepsake hardbound copies of the volume are available to you at discounted rates prior to publication.

Dr. Sayed, I urge you to complete the questionnaire enclosed and return it to us by **June 12, 2011** as entries in this book are limited. Should there be a slowdown in the transit of mail, kindly return your acceptance even if your nomination date is close to, or has recently expired. Please study the available mementos of inclusion and recognition. I am sure you will be suitably impressed with their appearance and importance. I congratulate you on your nomination for this monumental reference work which has never seen a likeness. I look forward to receiving your response. You may recommend your colleagues for consideration in an upcoming ABI reference volume by completing the form overleaf.

Sincerely,

J.M. Evans

J. M. Evans, President

انځور۳: د نړۍ غوره مفکر شخصیت په اړه د (ABI awards) لیک

د دغه لقب تر څنګ به یو د سروزرو مډال هم ورکول کېږي او سږ کال (۲۰۱۱) به د نړۍ د نورو غوره اشخاصو تر څنګ د دغه افغان نوم هم د نړیوالو پوهانو او غوره اشخاصو د بیوګرافیو په کتاب کې خپور شي. چې د نړۍ په غوره کتابتونونو کې به ځای پر ځای شي تر څو د دغه اشخاصو په اړه هر اړخیزې څېړنې تر سره شي. د بېلابېلو مملکتونو د کانګرس او یا پارلمان په کتابتونونو کې به هم دغه د بیوګرافي کتابونه د څېړنو لپاره وړاندې شي، چې د دغه غوره اشخاصو د ژوند او کړو وړو په اړه سیاستوال او پوهان هم اړین مالومات تر لاسه کړي.

ما د دې لپاره، چې خپلو هېوادوالو ته د دغه افغاني کارپوه په اړه مالومات ورکړي وي، له ډاکټر سیدنصیراحمد سره مې یوه مرکه تر سره کړې، چې ستاسو پام هم ورته را اړوم.

پوښتنه: ښاغلی ډاکټر صیب!

تاسو پروسږ کال د انګلستان د کمبرېج د بیوګرافیو د نړیوال مرکز (IBC – International Biographical Centre) لخوا د ۲۰۱۰ میلادي کال غوره ځانګړیوه ډاکټر ونومول شوی؛ موږ ستاسو په دغه برې او په نړیواله کچه د افغانانو د نیکنامۍ په اړه ټول ډېر خوشاله شولو او د هر افغان لپاره د وياړ ځای دی چې تاسو غوندې یو ډاکټر لرو. دا چې تاسو یو ډاکټر یاست او د دغه نړیوال څېړنیز مرکز څخه د غوره ډاکټر یا ځانګړیوه په نامه یاد شوي یاست، موږ ته هم د منلو او ویاړ وړ ده، مګر دا څه پېښه ده، چې د امریکا د بیوګرافیو څېړنیز انستیتوت تاسو ته د یوویشتمې پېړۍ د غوره مفکر او نړیوال سفیر لقب درکړی؟ آیا تاسو په ټولنیزو هڅو او یا فلسفوي بحثونو کې هم فعال یاست، چې د یو غوره مفکر لقب مو تر لاسه کړی او یا سیاسي هلې ځلې کوی، چې د نړیوال سفیر نومونه مو تر لاسه کړي دي؟


ځواب: ګرانه! یو کس کولای شي په ډېرو برخو کې خپل شخصیت ته وده ورکړي. زه د افغاني کلتور او ادب په برخه کې فعاله ونډه لرم، خو بیا هم زه دقیق نه پوهېږم، مګر دومره ویل شم، چې زه په نړیواله کچه نه یوازې د افغانانو بلکې د پردیو په منځ کې هم په ټولنیزو هلوځلو بوخت یم او په ډېرو پوهنیزو، ادبي او ټولنیزو غونډو کې ګډون کوم. په کنشمېر غونډو کې د نړۍ د بېلابېلو سیمو سیاستوال، ټولنپوهان، ژورنالیستان او کنشمېر نور پوهان ګډون کوي، نو هرومرو له خلکو سره خبرې او یا هم خلکو ته څه ویل د انسان په ژوند کې یو اغېز درلودلی شي او د نورو څېړنیزو مرکزونو پام ورته اړول کېږي.



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنی د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ

د افغانستان د وروستیو لسو کلونو په اړه ما د جګړې ضد دریځ خپل کړی او خپل نظریات مې په لیکلي بڼه د نړۍ تر واکمنو او ملګرو ملتونو رسولي دي. په ۲۰۰۱ میلادي کال کې مو له نورو سوله ملو ټولنیزو بهیرونو، خوځښتونو او ټولنو سره یو ځای د امریکایي تیري پر ضد په آمستردام او بیا د اروپا په بېلابېلو مملکتونو کې د جنګ ضد پلاتفورم جوړ کړ او د جنګ ضد پراخې مظاهرې وشوې، چې د نړۍ په کچه یې خپل اغېز پرېښود. پر عراق د امریکایي یرغل پر ضد هم دغه مظاهرې د نړۍ په کچه جوړې شوې وې، چې ما له خپلې وسې سره سم د جنګ ضد پلاتفورم جوړولو کې ونډه اخیستې ده.
باید یاده کړم، چې د یو مفکر او ټولنپوه وسله قلم او د هغه مفکوره ده، چې نورو ته یې په لیکلي بڼه ور رسوي. ما هم په ټولنیز ژوند کې د قلم په مرسته خپل نظریات په بېلابېلو ژبو لیکلي دي، چې قضاوت به یې بیا لوستونکي کوي او په ضمن کې مې د اروپا د ختیځ پوهنې له انستیتوتونو، ژورنالیستیکو مرجعو او ټولنیزو بهیرونوسره هم په ځینو پوهنیزو غونډو کې کار کړی. د کمبرېج د ټولنیزو څېړنو د مرکز لخوا راته د (د نړیوال هنر، ساینس او کلتور) د دېرشمې کلیزې د نړیوال سیمینار؛ چې د امریکا د نیویورک په ښار کې د ۲۰۱۱ میلادي کال په جولای کې دایر شو، د سیمینار د مشر مسؤلیت راکړل شوی، خو د بده مرغه د خپلې مسلکي بوختیا له کبله ما ونشوای کولای دغه غونډې ته ورشم.

پوښتنه: ډاکټر صیب تاسو خو یو طبي ډاکټر یاست، نو له ټولنیزو لیکنو سره مو ولې مینه پیدا شوې او که د افغانستان د وروستیو څو لسیزو پېښو تاسو هم په سیاسي بریوکی کې لاهو کړي یاست؟
ځواب: دا سمه ده چې زه یو روغتیایي کارکونکی یم، مګر هر ډاکټر په ذات کې یو ټولنپوه، روانپوه او اروا پوه هم دی او د انسانانو د روحیاتو پټ اړخونه هم ورته مالوم وي. له بل پلوه که یو ډاکټر یو ناروغ تداوي کوي، نو د سم ټولنیز فعالیت پر بنسټ کولای شي د ټولنې یوه لویه برخه درمل کړي، چې په ټولنیز ژوند کې به یې اغېز لیا هم پیاوړی وي. تاسو ته څرګنده ده، چې لکه یو ډاکټر یو ځانګړو نه تنها د یو شخص په درملنه بوخت وي، د خپلې مسلکي پوهې پر بنسټ کولی شي ټولنیزې پېښې هم وسپړي، وڅېړي او یا یې هم د لیکنې په بڼه نورو هېوادوالو ته توضیح کړي. له بلې خوا یو انسان ټولنیز موجود دی او ټولنه هم د انسانانو مجموعه ده، نو د انسانانو تداوي د ډاکټر فرض دی. د افغانستان له وروستیو څو لسیزو څخه زه هم لکه نور افغانان اغیزمن شوی یم، نو زما په لیکنو کې هم د افغاني ټولنې د ناخوالو څرک په زغرده لیدل کېږي.


HagaZiekenhuis
DE GOUDEN BISTOURI

Dit getuigschrift bevestigt dat Nasir Ahmad Sayed, geboren 15 oktober 1967 te Wardak, de laatste twee opleidingsjaren van de opleiding Heelkunde als individueel msrc-scholingsprogramma, voor buiten de EU opgeleide medisch specialisten, volgde van 1 september 2007 tot 1 oktober 2009 in het HagaZiekenhuis. Hij verwierf hier alle vaardigheden en competenties horend bij het zelfstandig uitoefenen van de Heelkunde.

Ten bewijze hiervan werd hem bij deze gelegenheid de Gouden Bistouri uitgereikt. De Bistouri getuigt namens de Maatschap Heelkunde van het Hagaziekenhuis te Den Haag van de vaardigheden en competenties van de ontvanger.

Maatschap Heelkunde HagaZiekenhuis
Den Haag, 15 januari 2010

dr J.W.S. Merkus, opleider
dr W.H. Steup, plv opleider

انځور۴: د هاګ د روغتون د سروزرو د چاړې ستاینلیک

پوښتنه: ما ته په زړه پورې ده، چې پرته له دغو مېډالونو او نومونو مو کومه بله ډالۍ یا لقب هم تر لاسه کړی؟ که به دي اړه لږ مالومات راکړې، نو په زړه پورې به وي؟
ځواب: په ښوونځي کې شوخ وم، مګر سبق مې لوست، خو د ښوونځي په بهیر کې نه پلار او نه هم کوم بل چاراته ډالۍ راکړې، پرته له یوې ختیني کوترې، چې پلار مې د قرآن اعظیم الشان د تلاوت په اړه راته ډالۍ کړې وه. تر ننه مې هغه پېښه په یاد ده. د ښوونځي په پای کې د حبیبیې په لیسه کې وم، هغه مهال یې ځوانان په وچ زور عسکري ته لېږل، چې زه هم له عسکري نه د خلاصیدو او پوهنتون ته د تلو له اندېښنو سره لاس او ګرېوان وم. د حبیبیې لیسې نه له فراغته وروسته مې د کانکور آزموینه تېره کړه، چې د کابل پولیتخنیک پوهنتون ته بریالی شوم او د لومړي درسي کال په بهیر کې د بېلاروسیې هېواد ته د زده کړو لپاره واستول شوم. په ښوونځي کې مې هم کوم ځانګړی بریالیتوب نه درلود، چې کومه جایزه یا ډالۍ مې تر لاسه کړې وای، خو د ښوونځي په لومړي او دویم ټولګي کې مې د روسانو په یو ښوونځي کې چې د جوزجان په ولایت د شبرغان په ښار کې ؤ، له روسي متعلمینو سره مې لېده کاته شوي، چې روسي ښوونکیو راته هغه مهال د قلمونو یوه ګېډۍ او کتابچې ډالۍ کړې وې.
په بېلاروسیه کې د طب پوهنځي د څلورم کال محصل وم، د روسیې او بېلاروسیې د محصلینو په یوه پوهنیزه سیالۍ کې مې ګډون وکړ، په هغه سیالۍ کې مې د یو څو نغدو روبیو جایزه تر لاسه کړه. ماته ډېره په زړه پورې سیالی وه او یو د ویاړ ځانګړی احساس راته پیدا شوی ؤ. دکمیسیون غړو چې ولیدم، نو راته خندل یې او ویې ویل: نومړې دې لوړې وې، مګر په روسي ژبه کې دې تېروتنې کړې وې. موږ نه پوهېدو چې د افغانستان یې، موږ ګومان کاوه، چې د شوروي اتحاد له آسیایي جمهوریتونو څخه راغلی یې، ځکه مو د روسي ژبې په برخه کې ستا نه توقوع ډېره وه، خو اوس پوه شولو چې ته په دغه سیالۍ کې یوازینی بهرنی یې. مګر بیا یې هم ډېر وستایلم. باید یاده کړم، چې د


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

آزمويني په پاڼه مو د خپل نامه د ليکلو اجازه نه درلوده او يوه شمېره مو پر پاڼه ليکلې وه، چې دبل کميسيون لخوا راکړل شوې وه.

د نيدرلند د آمستردام د مرکزي اکاډميک روغتون لخوا يوه ګړۍ او يوه کامره را ته ډالۍ شوي دي او د نيدرلند د دينهاګ په مرکزي روغتون کې مې دوه کاله کار وکړ، چې د دغه روغتون د جراحي سروېس لخوا راته د سروزرو د چاړې (DE GOUDEN BISTOURI) سېرتيفيکېټ راکړل شو. دغه ډول سېرتيفيکېټ ځانګړو جراحانو ته ورکول کېږي. د دينهاګ د ادارې لخوا ما ته هم دا ډول يوه چاړه له سيرتيفيکېټ سره راکړل شوې ده، چې ما ته لکه يو جراح تر ټولو ډاليو او نومونو غوره ډالۍ ده.


پوښتنه: ډاکټر صيب ما ستاسو ځينې ټولنيزې ليکنې لوستې دي، چې ستاسو په ليکنو کې يو ځانګړی سبک ليدل کېږي، نو را ته په زړه پورې ده، چې تاسو د چا له سبکه پيروي کوی او که ستاسو ليکنې خپل اړخ لري؟

ځواب: زه د کوم بل ليکوال پېښې نه کړم او په ليکنو کې هم له بل چا تقليد کول سم نه ګڼم. خو خپل ځانګړی سبک هم نه لرم، بيا هم زما ليکنې په يوه لنډه مقدمه پيلېږي، بيا موضوع سپړل کېږي او د ليکنې پايله پکې وي، نوکېدای شي په ټولنيزو ليکنو کې ډېر ټولنيز شيان او ټولنيزې پېښې بيان شي او په ليکنو کې د متلونو او د نامتو اشخاصو خبرې هم کاروم. په ساينسي يا روغتيايي ليکنو کې ليکنې د يوې منل شوې اډانې په بڼه ليکل کېږي، چې مقدمه، احصاييه، پربکړه، لمنليک او اخستليک يې غوره برخې ګڼل کېږي، چې روغتيايي او ساينسي ليکنې بيا په بشپړه توګه خپرېږي.

پوښتنه: ډاکټر صيب تاسو د ټولنيزو علومو په برخه کې لوست کړی او يا مو پخپله په دې برخه کې هلې ځلې کړې دي، نو ستاسو د ټولنيزو ليکنو انګېزه څه ده؟

ځواب: ما د تحصيل په دوره کې له ټولنيزو علومو، په تېره بيا تيولوژي، ټولنيز دياليکتيک او تاريخي فلسفې سره ډېره مينه درلودله او په دې برخه کې مې ډېره مطالعه کوله. د (دوکتورا) د پروګرام د تر سره کولو لپاره مې د يو کال په بهير کې فلسفه هم لوستې، چې د انتيک فلسفه، ديني او مذهبي فلسفې شاليد او د رېنيسانس اغېز په منځنيو پېړيو کې او د اتلسمې پېړۍ نه وروسته د لوېديزې فلسفې ټولنيز، کلتوري او سياسي بهير يې غوره برخې وې. بايد ياده کړم چې د فلسفې دغو زده کړو زما د ټولنيزې پوهې او د ذهن په وده کې غوره رول لوبولی او د ټولنيز پوهاوي په برخه کې يې ډېره مرسته راسره کړې ده. زما د ټولنيزو او ادبي فعاليتونو انګېزه د افغانستان په ناخوالو کې نغښتې ده، چې زموږ د هېواد بدمرغيو هم زه دې ته هڅولی يم، چې ټولنيز فعاليت وکړم او ټولنيزې ليکنې د افغاني ناخوالو په اړه وليکم.

ښاغلی ډاکټر صيب! دا د وياړ ځای دی، چې زموږ يو هېوادوال د نړۍ په کچه د امريکا د يو څېړنيز انستيتوت لخوا د (يوويشتمې پېړۍ د غوره مفکر شخصيت او د نړيوال سفير) په نامه نومول کېږي او موږ ټول ستاسو په نومونه او ستاسو په ټولنيزو هڅو فخر کوو. د دې تمه لرو چې نور افغانان هم په نړۍ کې بريالي شي او خپلو هېوادوالو ته وياړونه ورپه برخه کړي. په پای کې که خپلو هېوادوالو ته څه ويل غواړی، ډېر به خوشاله شم.




انځور۵: د نړيوالو سفيرانو سلسله

ګرانه وروره! زه خو ځان يو عادي افغان ګڼم، نو زه به څه ووايم، خو د افغانستان په اړه د ټولو زړونه خوږين دي. په دې اړه به درنو افغانانو ته يو سپارښت وکړم، چې درنو هېوادوالو! نن سبا افغانستان د يوې نوې تاريخي آزموينې په درشل کې دی، ځکه چې د وروستيو لسو کلونو په بهير کې لوېديزوالو ونشوای کولای، چې د افغانستان غيور خلک اېل کړي، خو د دې تر څنګ د دې ګواښ هم موجود دی، چې د لوېديزوالو له تېښتې وروسته بيا افغانستان په «من و تو!» و نه وېشل شي او خپلمنځي جګړې رامنځ ته نه شي. د دغه بدمرغي د مخنيوي لپاره بايد خلک يو موټی شي او د افغان تر نامه لاندې د افغانستان هويت وساتي او لکه ورونه د دغه ځپل شوي او وېجاړ افغانستان په بيا رغاونه کې متې راونغاړي او يو سمسور افغانستان جوړ کړي.

ښاغلی ډاکټر صيب ستاسو نه يوه نړۍ مننه چې زما سره مو دغه مالومات شريک کړ او په زړه پورې مالومات مو د خپلو ټولنيزو هڅو په اړه موږ ته څرګند کړل.

ستاسو نه هم مننه چې ما ته مو د دغو خبرو د توضيح کولو زمينه برابره کړه، کور مو ودان. د ټولو افغانانو د نېکمرغي او بري په هيله. وسلام.



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

یادونه: هغه رسنۍ (ټلویزیونونه، راډیوګانې، ورځپاڼې او ویبپاڼې) چې غواړي له ډاکټر صاحب سره خپله مرکې وکړي، هغه نن کابل ته تللی تر څو له خپلې کورنۍ سره د روژې مبارکه میاشت او اختر تېر کړي، دوی کولای شي د ۰۰۹۳۷۸۷۳۵۰۳۴۰ او ۰۰۹۳۷۸۷۸۶۰۰۶۱ ټیلیفونونو له لارې دهغې سره مرکې تنظیم کړي.

په درنښت

دسیدعبدالله ولي زي مرکه



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ